# په کابل ښار کې د سیلابونو پر وړاندې د عامه پوهاوی او خبرداری سیستم ارزونه

پوهنیار حیات‌الله مشوانی[۸]، پوهنیار سیدکاظم هاشمی[۹] او پوهنیار کاوون سهاک[۱۰]
تقریظ‌ورکوونکی: پوهاند عبدالغیاث صافی

مجله‌ی علمی-تحقیقی حوزه‌ی علوم
طبیعی پوهنتون کابل، ۲ (٤) ۱٤۰۰

## لنډیز

سېلاب یوه طبیعي پېښه ده چې د کابل ښار په ځینو ناحیو کې د کال په بېلابېلو موسمونو کې رامینځ ته کېږي او د مالي او ځاني تلفاتو او زیانونو لامل ګرځي. د دې څېړنې ستره موخه دا ده چې په کابل ښار کې د سېلابونو تر پېښېدو د مخه څه ډول چمتووالی ونیسو تر څو له سېلابونو بچ او په امان پاتې شو. په دې څېړنه کې د پوښتنپاڼو په ذریعه له ساحی څخه معلومات را ټول شوي سربیره پردې د کتابونو او معتبرو ژورنالونو څخه ګټه اخستل شویده. ددی څېړنی موندنی دا ښایی چی په کابل ښار کی د سیلابونو خبرتیا اړوند د خلکو پوهاوی خورا کم دی. اړینه ده چی په کابل ښار کې د سېلابونو تر رامینځه ته کیدو د مخه باید د خبرتیا سیستم شتون ولري دا به د سېلابونو په مدیریت او مخنیوي کې د پام وړ رول ولوبوي.

کلیدی اصطلاحات: خبرتیا سیستم؛ عامه پوهاوی؛ کابل ښار؛ معلوماتو خپرولو سیستم؛ ارزونه؛ او سیلابونه

# Assessment of Early Warning System and Public Awareness of Floods in Kabul City

Jr. Teaching Asstt. Hayatullah Mushwani, Jr. Teaching Asstt. Sayed Kazim Hashimi & Jr. Teaching Asstt. Kawoon Sahak

## Abstract

Flood is a natural Disaster, It happens in various seasons of the year in different districts of Kabul city. It cause Casualties and financial issues. The main aim of this research was to evaluate the early warning system and public awareness in Kabul city. In this study data was collected from study area through validated questioner further, books and international journals were reviewed. The result indicates that public awareness level is low related to flood warning in Kabul city. In conclusion this research suggest that early warning system should be properly implemented in Kabul city which can significantly help in flood management.

Keywords: Early warning system; Public awareness; Kabul city; Dissemination system; Floods; Assessment

**ارجاع**

مشوانی، حیات‌الله، هاشمی، سیدکاظم و سهاک، کاوون. (۱٤۰۰). په کابل ښار کې د سېلابونو پر وړاندې د عامه پوهاوی او خبرداری سیستم ارزونه. مجله‌ی علمی- تحقیقی حوزه‌ی علوم طبیعی پوهنتون کابل، شماره ۲ (٤)، صص ۹۷ – ۱۰۷.

---

[۸،۹،۱۰] استادان پوهنځی محیط‌زیست، پوهنتون کابل

## سریزه

لکه څرنګه چې سـیلابونه یوه طبیعي پیښـه ده (۱). نه یوازې د کابل په ښـارکې بلکی د افغانسـتان په ډېرو سیمو کې وخت ناوخت رامنځته کیږي او د مړینی او تاوانونو سبب ګرځي (۲). سیلابونه د بېلا بېلو لاملونو لـه املـه رامنځ تـه کېږي، لکـه: اقلیمی بـدلونونـه، واورې ویلي کیـدنـه، پیچلی جغرافیـایي جوړښت او دې ته ورته نور (۳).

په کابل ښار کې د سیلابونو مهم لاملونه، موسمي ورښتونه، د منظم کانالیزایسون سیستم نشتوالی، د نفوس زیاتوالی، د نباتاتو نه شتون او داسې نور لاملونه ښودل شوي دي (۴). نو د دې پیښې دکموالي او کنترل لپاره په کابل ښارکې د سیلابونو تر پیښیدو څخه د مخه باید د خبرتیا او جواب ورکولو منظم او بنسټیز سسیتم شتون ولري او خلکو ته داسې عامه پوهاوی ورکړل شي چې تر سیلابونو مخکې، د سـیلابونو په جریان کې او ترسـیلابونو وروسـته کومې چارې باید ترسره کړي چې تر څو د مړینې، چاپیریال ویجاړنې او اقتصادي زیانونو کچه را ټیټه شي.

## د څېړنې مخینه

د سیلابونو پر وړاندې د خبرتیا او عامه پوهاوي په اړه په افغانستان او په ځانګړي ډول د کابل په ښار کې د پام وړکړنې نه دي ترسره شـوي. خو د ځینو زده کړیالانو، پوهنتونو، ښـونځیو او اړوندو ادارو د لنډ مهاله ورکشـاپونو او کورسـونو له لارې د کابل ښار په ځینو سیموکې عامه پوهاوی کړی دی، خو په بنسـټیزه توګه ګټور نه دی تمام شـوی. د نړی په نورو هیوادونوکې د سـیلابونو خبرتیا، عامه پوهاوی او ځواب ورکولو په برخه کې د پام وړ پرمختګ رامینځ ته شویدی.

د سیلابونو خبرتیا ورکونی سیستم هغه ظرفیتونه دي چې دسیلابونو ترپیښیدو مخکې زیان رسیدونکو سـیمو لپاره معلومات خپروی (۵). بنګلدیش د سـیلابونو د خبرتیا لپاره تر پیښـیدو د مخه دوه ډوله سیسـتم لري: (FFWC) او (RIMES) سیسـتم چې د دغو سیسـتمونو له مخی د سـیلابونو وړاندوینه کیږی او د دغه وړاندوینېو پر بنسـټ هغه سـیمو ته چې د زیانمن کیدو له ګواښ سره مخ وي، هغوی ته د سیلابونو تر پیښیدو مخکې د ۷ ورځو نه تر ۱۰ ورځو پورې معلومات خپروي چې خلک د ځان ژغورلو لپاره لازمي کړنې تر سره کړي او ځانونه ډاډمنو ځایونو ته ورسـوي. دغه پورته ذکر شـوي دوه ماډلونـه د امریکـا متحده ایالاتو او اروپا لـه اقلیمي ماډلونو څخه معلومات را ټولوي او ځینې لومړني میتورولوژیکی معلومات د بنګلدیش هـــیواد د هایدرومترولوژیکی سـیمه ییزو ادارو او ستیشنونو څخه را اخلي (۵).

د سیلابونو خبرتیا سیستم د څلورو مهمو او کلیدي عناصر څخه جوړ شوی دی. د ګواښونو پیژندل، له ګواښونو څخه څارنه کول، د خبر ورکونې خدمات، دګواښونو معلومات، اړیکې او د ګواښونو په وړاندې ځوابی کړنې دي (٦).

د سیندای چوکاټ چې د ۲۰۱۵ نه تر ۲۰۳۰ کال پورې د پېښو مدیریت لپاره پلی کیږي، خبرتیا او عامه پوهاوی د پیښو د کموالي هغه عناصر دي چې د پیښو تر پیښدو مخکې او د پیښو تر پیښدو وروسته کلیدي رول لوبوي (٧). د سیلابونو پر وړاندې زیانمنو سیمو ته د خبر ورکونې لپاره لومړی شرط دا دی چې یو ښه او اعتبار لرونکی وړاندوینی سیستم باید شتون ولري. هغه متیو رولوژیکي عناصر چې دهغه له امله سیلابونه رامینځ ته کیږي باید د وړاندویني سیستم په مرسته وپیژندل شي چې په وخت باندې د سیلابونو او یا نورو پیښو پر وړاندې د خبر ورکونې معلومات خطرناکو او زیان منونکو سیمو اورسیدونکو ته خپاره شي (٨).

د افغانستان د پیښو قانون پربنسټ ټول خلك باید د پیښو د کنترلو په مختلفو پړاونوکی له بیړنیو ټیمونو سره د پیښو پرمهال او په ځانګړي ډول خبر ورکونې په پړاونوکی کی مرسته وکړي تر څو د تاوانونو او مړینی په ټیټ والي کې د پام وړ کموالی را شي (Afghanistan Disaster Management Law 2012). همدارنګه د سیلابونو او یا دې ته ورته نورو پیښو پر وړاندی د اغیزمنی خبرتیا لپاره باید بیړنی اغیزمن سیستم ((Rapid Response system (RRS) شتون ولري (٩).

## د څیړنې موخې

د دې څیړنې ټولیزه موخه په کابل ښارکې د سیلابونو د کموالي او کنترل لپاره د عامه پوهاوی او خبرتیا سیستم ارزونه ده او همدارنګه د خلکو وړتیا په کومه اندازه ده؟ د دې ستونزو د شتون لپاره یو ښه خبر ورکونکی سیستم باید وپیژندل شي چې د سیلابونو پر وړاندې د خلکو مالي او ځاني تاوانونه راکم کړي او د پیښو د مدیریت او کنترل په برخه کی پرمختګ وشي.

## د څیړنې پوښتنې

دا څیړنه لاندې پوښتنو ته د ځواب موندنې لپاره تر سره شوې ده.

الف. په کابل ښارکې دسیلابونو تر پیښیدو دمخه څه ډول خبرتیا او ټولنیز پوهاوي ترسره کیږی؟

ب. په کابل ښارکې د سیلابونو د خبرتیا او خبر رسونې سیستم په اړه د خلکو ظرفیت او عامه پوهاوی څومره دی؟

ج. په کابل ښارکې د سیلابونو پر وړاندې د خبرتیا سیستم کومې ستونزې لري؟

## د څېړنې میتود

دا څېړنه دساحوي څېړنې بڼه لري چې د کابل ښار دولتي پوهنتونونو (کابل پوهنتون، کابل پولیتخنک پوهنتون، کابل ښونې اور روزنې پوهنتون) له ۳۰۰ زده کړیالانو څخه د خبرداری او عامه پوهاوي په اړه ۲۰پوښتنې د پوښتنپاڼې په بڼه ترسره شوې دي. همدارنګه کتابتوني او مقایسوی مطالعه او د افغانستان د پیښو مدیریت اړوند قوانین، مقررات او پالسیانې د سیلابونو د خبرتیا او خبر رسونې په اړه مطالعه شوې او له دغو لارو چارو څېړنه بشپړه شوې ده. هغه نړیوال قوانین چې د پیښو مدیریت لپاره شته دي هغه هم مطالعه شوې دي. بیا دغه ټول معلومات د (Excel) او (GIS) په واسطه تحلیل او تجزیه شوي دي.




لمړی انځور: دکابل پوهنتون،کابل پولیتخنیک پوهنتون او کابل تعلیم او د څېړنې موندنې (Google Earth, 2021)

## د څېړنې موندنې




دوهم انځور: په کابل ښار کې د سیلابونو لاملونو، تولنیز معلوماتو او د سیلابونو په واسطه د استوګن ځایونو زیانمیدو ګراف

په پورتني ګراف کې تر سروې وروسته څرګندېږي چې د ۸۳٪ سلنه وګړو تولنيز پوهاوی په کمه اندازه دی. ۱۰٪ سلنه متوسط او يوازې د ۷٪ سلنه خلکو د تولنيز پوهاوي کچه زياته ښودل شوې ده، لکه څرنګه چې د تولنيز پوهاوي په هکله د خلکو معلومات کم ښودل شوي دي او همدارنګه ۵۶٪ سلنه کابل ښاريان د سيلابونو د لاملونو په هکله پوهېږي ځکه چې ۴۲٪ سلنه خلک په دې نظر دي چې کله سيلابونه پيښيږي د دوی ژوند په زياته اندازه بانديې له ستونزو سره مخامخ کوي. د ۳۰٪ سلنه وګړو ژوند په متوسط ډول او د ۲۸٪ سلنه خلکو ژوند په کمه اندازه ګواښي.




دريم انځور: د سيلابونو او د سيلابونو د زيانونو په هکله معلوماتو او پوهاوی ګراف

داګراف جوتوي چې په ټوله کې د سيلابونو په هکله د خلکو معلومات زيات دي. نږدې ۲۲٪ سلنه خلک ۱۰۰٪ او ۵۸٪ خلک ۷۵٪ معلومات لري او نږدې ۵۰٪ خلک يې د تاوانونو او بدو اغيزو په هکله هم تر ډيره بريده معلومات لري. څېړنو ښودلې ده چې افغانستان يو غرنی هېواد دی او د پيچلي جغرافيايي جوړښت، موسمي اورښتونو، واورې ويلې کېدو او اقليمي بدلونونو له امله هر کال سيلابونه را منځ ته کيږي، نو ځکه دا امکان لری چې د همدی امله د خلکو پوهاوی د سيلابونو په هکله زيات وی (۱۱).




ځلورم انځور: د سیلا بونو په هکله د خبرداري سیستم او د مسؤلو ادارو خبرتیا ګراف

د سیلابونو د کموالي او مخنیوی لپاره د خبرتیا سیستم خورا مهم بلل کیږي. په دې هکله د کابل ښار اوسیدونکو د ټولنیز پوهاوي کچه کمه ده. ٪۵۶ خلک په دې باور دی چې اړوندو ادارو د سیلابونو له پیښیدو مخکې د خبرتیا په خپرولو کې مرسته نه ده کړې یوازې ٪۱۱ خلک د اړوندو ادارو مرسته مني او ٪۳۳ خلکو هیڅ نظر نه دی ورکړی. له بله پلوه ٪۶۹ خلک د سیلابونو تر پیښیدو دمخه د خبرتیا له سیستم سره اشنایي نه لري. یوازې ٪۱۵ خلک دغه سیستم پېژني چې دا هم امکان لری چې د اړوندو تخصصی څانګو زده کړیالان وي او د ٪ ۵۲ خلکو رایه بیا دا ده چې د خبرتیا سیستم د سیلابونو په کموالي کې رول نه لري، ځکه چې دوی د دغه سیستم په اړه پوره معلومات نه لري. ٪۲۸ خلک عقیده لري چې د خبرتیا سیستم د سیلابونو په کموالي کې رول لري او ٪۲۰ وګړي بیا هېڅ خپل نظر نه څرګندوي. څېړنې ښيي چې خلکو ته د سیلابونو تر پیښیدو وړاندې د وخت او دقیقو معلوماتو خپرول د خبرتیا سیستم یو مهم عنصر دی چې د پیښو په مدیریت کې ډیر ګټور تماميږي (۱۲).

کله چې د مختلفو ټکنالوژیو په واسطه وړاندوینه خپره او د سیلابونو خبرتیا لپاره معلومات را ټول شي، نو مهمه ده چې دغه معلومات په ښه توګه سره زیانمنو خلکو ته په وخت ورسیږي. د دغه سروې معلومات څرګندوی چې په سلو کې ٦۰ ٪ خلک دا فکر لري چې د معلوماتو ترلاسه کولو لپاره ښه لاره راډیو ده. ۲۲ ٪ بیا په دې نظر دي چې د سیلابونو د خبرتیا معلوماتو د رسوني لپاره تلویزون غوره بولي، خو د مختلفو لاملونو لکه د دوامداره او پایدره برېښنا نشتون له مخې یې ممکن فیصدي کمه وي. مګر د دې په څنګ کې ۱۸ سلنه وګړي په دې باوري دي چې خلکو ته او په ځانګړې ډول د سیلابونو تر خطر لاندې سیمو ته دې د پوهاوي معلومات د مسجد له لارې خپاره شي.




پنځم انځور: د سیلابونو تر پیښیدو وړاندې خبرتیا ګراف

امکان لري چې یو ښه بدیل وي. زمونږ د ټولنې ۹۹٪ خلک مسلمانان دي او مسجد ته د لمونځ ادا کولو لپاره په ډیر تعداد خلک راځي او تر یوې اندازې پورې په سمه توګه اخلکو ته معلومات رسیږي. له بل پلوه په بنګدیش کې هم په هغه سیمو کې چې امکانات کم وي له دې میتود څخه استفاده کیږی (۵). د ۵ شکل په ګراف کی لیدل کیږی چی په ټوله کې خلک په دې نظر دي چې ټولنیزې رسنۍ د معلوماتو په خپرولو کی ګټورې تماميږي. له همدی امله یې ۴۰٪ خلک د معلوماتو خپرولو لپاره غوره بولي. پاتې ۲۴٪ یې د ښوونځیو او ۳٦ ٪ یې بیا جوماتونه غوره لاره ګڼي. لکه څرنګه چې د ۵ شکل په ګراف کې هم یادونه شوې ده چې زمونږ په هیواد کې ممکن په ځینو شرایطو کی جوماتونه بدیله لاره وي.

لمړی جدول: د سیلابونو معلومات، افغانستان د پیښو او چمتوالي قانون، د سیلابونو په هکله د خلکو معلومات او د خلکو زیانمن کیدل.

| شماره | پوښتنې | هو | نه | هو | نه |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۱ | آیا تاسو کوم وخت خپلو کورنیو ته د سیلابونو په اړه معلومات ورکړي دي؟ | ۱۲٦ | ۱۷۴ | ۵۸٪ | ۴۲٪ |
| ۱۲ | د افغانستان د پیښو مدیریت قانون په هکله تاسو ته د کوم بنسټ په واسطه معلومات درکړل شوي دي؟ | ۱۲۰ | ۱۸۰ | ٦۰٪ | ۴۰٪ |
| ۱۳ | آیا تاسو له اړوندو مسوولو ادارو سره د سیلابونو پر وړاندې د خبرتیاوو په خپرولو کې مرسته کوئ؟ | ۲۲۵ | ۷۵ | ۲۵٪ | ۷۵٪ |
| ۱۴ | آیا کله تاسو له سیلابونو څخه په کابل ښار کې زیانمن شوي یاست او مسوولو ادارو درسره مرسته کړې ده ؟ | ۴۰ | ۲٦۰ | ۱۳٪ | ۸۷٪ |
| ۱۵ | تاسو پوهیږئ کله سیلابونه پیښیږي څه باید وکړئ ؟ | ۵۰ | ۲۵۰ | ۸۳٪ | ۱۷٪ |
| ۱٦ | آیا تر اوسه پورې تاسو ته د اړوندو مسوولو اداراو له خوا د خبرتیا سیستم په هکله معلومات در کړل شوي دي؟ | ۹۸ | ۲۰۲ | ٦۷٪ | ۳۳٪ |

په پورته جدول کې د سروې له معلوماتو څخه څرګندیږي چې ۵۸٪ خلك د سیلابونو پیښیدو په اړه معلومات لري او ٦۰٪ خلك د افغانستان د پیښو او چمتوالي قانون په هکله پوهاوی لري. یوازې ۴۲٪ خلك بیا د سیلابونو او ۴۰ ٪ خلك بیا د پیښو مدیریت قانون په هکله اړین معلومات نه لري. لکه څرنګه چې د کابل ښاریان د سیلابونو په هکله ډیر معلومات لري، نو ۲۵٪ خلك وایي چې دوی د سیلابونو له پیښیدو دمخه د خبرتیا په خپرولو کې له اړوندو مسوولو ادارو سره مرسته کوي او ۷۵٪ وګړي په خبرتیا کې مرسته نه کوي. ممکن دوی ته د دولت له خوا د پیښو د خبرتیا په هکله معلومات نه وي ورکړل شوي او یا یې له ارزښته ناخبره دي. څکه دلته معلومیږي چې کله په کابل ښار کې سیلابونه راوتلي دي فقط ۱۳٪ خلك وایي چې له دوی سره مرستې شوي او ۸۷ ٪ خلك ادعا کوي چې له دوی سره د مسوولو ادارو له خوا مرستې نه دي شوي. خو له بل پلوه د کابل ښاریانو پوهاوی د سیلابونو په هکله زیات دی، ۸۳٪ خلك د سیلابونو د پیښدو په هکله معلومات لري، خو ۱۷٪ وګړي له معلوماتو څخه بې برخې او ناخبره دي. د سیلابونو د پیښیدو نه مخکې د خبرتیا سیستم په هکله د خلکو معلومات په پرتله ایزه توګه لږ ښودل شوی چې یوازې ٦۷٪ خلك تر یوې اندازې معلومات لري او ۳۳٪ وګړی هیڅ معلومات نه لري.

دوهم جدول: د سیلابونو د مخنیوی پلان، د سیلابونو خبرتیا سیستم، د خیریه بنستونو مرستې او سیلابونو اغیزې

| شماره | پوښتنې | هو | نه | نظر نه‌لرم | هو | نه | نظر نه‌لرم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۷ | آیا ستاسو په سیمه کې د سیلابونو د کنترل او مخنیوي لپاره د چمتوالی پلان شتون لری؟ | ۴۲ | ۱۱۴ | ۱۴۴ | ۴۸٪ | ۳۸٪ | ۱۴٪ |
| ۱۸ | آیا ستاسو په سیمه کې د خبرتیا اغیزمن او ګټور سیستم شتون لری؟ | ۳٦ | ۱۴۴ | ۱۲۰ | ۴۰٪ | ۴۸٪ | ۱۲٪ |
| ۱۹ | آیا ستاسو په سیمو کې د سیلابونو پر مهال کې خیریه بنسټونه له تاسو سره مرستې کوي؟ | ۱۰۸ | ۱۲۰ | ۷۲ | ۲۴٪ | ۴۰٪ | ۳٦٪ |
| ۲۰ | ستاسو په نظر سیلابونه په کابل ښار کوم ډول اغیزې لري؟ | ۴۵ | ۳۰ | ۲۲۵ | ۷۵٪ | ۱۰٪ | ۱۵٪ |

د سروې د معلوماتو له مخې په کابل ښار کې ۴۸٪ خلك دا نظر لري چې د دوی په سیمو کې د سیلابونو د چمتوالي لپاره پلان شتون لری، ۳۸٪ خلك د پلان نه شتون ادعا کوي او ۱۴٪ وګړی هیڅ نظر نه لري. لکه څرنګه چې د سیلابونو د خبرتیا سیستم د سیلابونو په مخنیوي کې ګټور تمامیږي دلته یوازی ۴۰٪ خلك وایي چې د دوی په سیمو کې د خبرتیا لپاره سیستم لري. ۴۸٪ خلك بیا له دغه سیستم څخه بې برخې دي او ۱۲٪ وګړي هیڅ نظر نه څرګندوي. په ټوله کې د پیښو خبرتیا سیستم په هکله د خلکو معلومات کم دي. د سیلابونو پیښیدو په وخت کې اړوندو خیریه بنسټونو په اړه یوازې ۲۴٪ خلك مرستې تائیدوي چې خیریه بنسټونو ورسره مرستې کړي؛ خو ۴۰٪ وګړي بیا د مرستو له نه

رسېدو څخه انکار کوي او له دغو مرستو ځان محروم بولی. په دې برخه کې ۳۶٪ خلک چوپ دي او هیڅ نظر نه لري. له نیکه مرغه ۷۵٪ خلک د سیلابونو د اغیزو په هکله معلومات لري ۱۰ ٪ له معلوماتو ناخبره او ۱۵٪ خلکو کوم نظر نه دی ورکړی.

**مناقشه او پایلې**

د سیلابونو تر پیښېدو دمخه د خبرتیا او عامه پوهاوي سیستم د پیښو مدیریت لپاره ډېر زیات اړین کنډل کیږی، ځکه هر کله چی سیلابونه پیښیږی که په دقیق ډول وپیژندل شي، نو اړوند او مسوول بنسټونه به وکولای شي چې په وخت باندې له زیانمنېدونکو خلکو او سیمو سره معلومات شریک کړي. خو له بلې خوا د مختلفو لاملونو لکه د سیلابونو ډولونه، د سیلابونو لاملونه (انساني او طبیعي)، لنډ مهاله او اوږد مهاله سیلابونه او نور لامیلونه یې بشپړه وړاندوینه او خبرتیا له ستونزو سره کله نا کله مخامخ کوي (۱۳). له بلی خوا نه د افغانستان د پیښو او چمتوالي قانون چې په ۱۳۹۳ لمریز کال کې د اړوندو ادارو له خوا نه تائید شو، د ټولنی خلک یی اوس هم په هکله پوره معلومات نه لري، یوازې په ټول هیواد کې په لږو تعلیمي مرکزونو کې تدریس کیږي، د بیلګې په ډول د کابل پوهنتون چاپیریال ساتنې پوهنځی د پیښو مدیریت په څانګه کې تدریس کیږي. همدارنګه د پیښو او چمتوالي پر وړاندې د افغانستان ملي اداره هم د پیښو پر وړاندې د خلکو پوهاوی او مسوولیتونو پېژندلو لپاره روښانه او دوام داره میکانیزم نه لري. بله ستونزه چې په افغانستان او په ځانګړي ډول په کابل ښار کې د پیښو پیښېدو نه مخکې د معلوماتو پر وړاندی شتون لري، دلته د ټولو پیښو لپاره او په ځانګړي ډول د سیلابونو وړاندوینې او د معلوماتو د خپریدو لپاره منظم سیستم شتون نه لري. یوازې د USAID په مرسته د افغانستان د پیښو او چمتوالي ملي اداره د پیښو نه مخکې د خبرتیا څنځیري سیستم (Afghanistan early warning End-to-end system) چی د پروژې په بڼه باندې وه له ۲۰۱۶ نه تر ۲۰۲۰ م کال پورې شتون درلود. همدارنګه دغه سیستم هم ډېرې ستونزې درلودې چې خلکو ته بیا خبرتیا د ټولنیزو رسنیو لکه (راډیو، تلویزیون، فیسبوک...) په واسطه خلکو سره شریک کیږي (۱۴) لکه څرنګه چی له سروې څخه هم معلومه شوه، چې خلک د ټولنیزو رسنیو ته په پوره اندازه لاس رسی نه لري دوی اوس هم په هغه سنتي میتودونو باندې ټینګار کوي، لکه: مسجدونه، مدرسی، ښوونځي او نور. څرنګه چې خلک د پیښو مدیریت او په ځانګړي ډول د سیلابونو د خبرتیا، لاملونو، او اغیزو په هکله اړین معلومات نه لري، له بله اړخه د افغانستان د پیښو د مدیریت په قانون او پالیسی کې یادونه شوی ده چې دولت مسوول دی خلکو ته د پیښو مدیریت په هکله پوهاوی ورکړی. له بله پلوه هر کال په افغانستان کې د سیلابونو له امله تقریباً ۱۰۰۰۰۰ خلک اغیزمن کیږي او امکان لری

چې ۲۰۵۰ م کال کې دغه شمېر دوه برابره شي (۱٦). همدارنګه د دغې سروې له معلوماتو څخه څرګنده شوه چې کابل ښاريان لېوالتيا لري چې د سيلابونو په کمښت، خبر رسونه او دې ته ورته نورو برخو کې له دولت او مرستندويه بنسټونو سره مرستې وکړي.

**وړانديزونه**

۱. د افغانستان د پېښو او چمتوالي ملي ادارې ته وړانديز کېږي چې د هر ولايت لپاره د سيلابونو تر پېښېدو مخکې د خبر رسونې منظم سيستم جوړ کړي تر څو هېوادول د سيلابونو له تاوانونو څخه خوندي شي؛

۲. د افغانستان د پېښو او چمتوالي ملي اداره که دکابل ښاريان د خبرتيا رسونې په سيستم کې داخل کړي، په دې سره به د سيلاب د زيانونو مخه تر ډېره ډب او را کمه شي؛

۳. خيريه بنسټونه د سيلابونو پر وړاندې د خبرتيا په برخه کې کابل ښاريانو په ظرفيت لوړونه کې مرسته وکړي، نو ډېر وګړي به د سيلابونو دغه لوی ګواښ ته پاملرنه وکړی؛

٤. که د پېښو مديريت په قوانينو او پاليسو باندی بيا کتنه وشي د سيلابونو په زيانونو کې به کموالی را منځ ته شي؛

۵. د کابل ښار د هرې ناحيې لپاره بايد ر ضاکار ټيمونه جوړ شي تر څو د سيلابونو د پېښېدو څخه مخکې د خبرتيا په رسونه کې لازمي مرستې وکړي.

## منابع


(1) ACAPS. Disaster Summary Sheet FLOODS [Internet]. 2012, p. 23. Available from: https://www.acaps.org/.../disaster_summary_sheet-floods_january_2012.

(2) Authority NS and information. nsiaa_report.pdf. National Statistic and information Authority. 2017, p. 22.

(3) The analysis of the causes of flood disasters and their impacts in the perspective of environmental law. IOP Conference Series: Earth and Environmental Science PAPER. 2019, p. 8.

(4) Kaberzad SA. Flood social impacts in kabul city. Kabul University; 2020, p. 89.

(5) UNISDR Scientific and Technical Advisory Group Report ( Bangladesh). Case StudY 3: UNISDR Sci Tech Advis Gr Rep 2013. 2013; 91(11), pp. 18-9.

(6) United Nations Inter-Agency Secretariat, For of the IS, (UN/ISDR) DR. Global Survey of Early Warning Systems Global Survey of Early Warning Systems. 2006, p. 49.

(7) UNISDR (United Nation International Strategy For disaster Risk Reduction. Sendai Framework for Disaster Risk Reduction 2015-2030 1. 2015, p. 27.

(8) Kabir H, Hossen N. Impacts of flood and its possible solution in Bangladesh. Disaster Adv. 2019; 12(10), pp. 48-57.

(9) REPUBLIC I, OF, AFGHANISTAN, JUSTICE MO. Afghnistan Disaster Management law. 2012, p. 29.

(10) Irfan Ahmad Rana SSB& AJ. The effectiveness of a national early warning.pdf [Internet]. p. 20. Available from: https://doi.org/10.1080/17477891.2020.1751031

(11) Statistical Economic and Social Research and Training Centre for Islamic Countries. Managing Natural Disasters in Afghanistan: Risks, Vulnerabilities and General Guidelines. 2017, Available from: https://www.sesric.org/files/article/575.pdf

(12) Ana Maria zambrano, Xavier calderón sj, Oscar Marcelo zambrano me and CP. Community Early Warning Systems. Japan Public Saf Networks. 2010, pp. 66.

(13) Hewitt K. Excluded perspectives in the social construction of disaster. What is a Disaster?: A Dozen Perspectives on the Question. 2005, p. 71-88.

(14) Glance NATA, Hydro meteorological EOF. Back on the map. 2018.

(15) Bank W. Afghanistan - Disaster Risk Profile.pdf. 2017, p. 17.